CORE
Cultural Orientation Resource Exchange

Pashto Version

# د کډوالو لپاره سرچینې



## د امریکا متحده آیالاتو قانون: د قانون حاکمیت

د امریکا متحده آیالات داسې یوه سیستم په واسطه اداره کیږي چې موخه یې د نظم ډاډ ورکول دي او د قوانینو له لارې د خلکو محافظت او د دغه قوانینو د تنفیذ لپاره پروسو ډاډمن کول دي. دې ته اکثر د "قانون حاکمیت" ویل کیږي. د امریکا متحده آیالاتو کې قوانین د امریکا متحده آیالاتو اساسي قانون کې په ګوته شوي اصول او حقونه تعقیبوي. د امریکا متحده آیالاتو کې ټول خلک، پشمول د مهاجرینو د دې قوانینو په واسطه محافظت کیږي او پدې قوانینو باندې د پوهیدو او تعقیبولو مسؤلیت په غاړه لري.

### "د خلکو حکومت، د خلکو په واسطه، د خلکو لپاره"

په 1863 کې د امریکا د کورنۍ جګړې اوښتونکي موقع کې د وینا پرمهال وړاندې شوي د ولسمشر ابراهم لنکن دا ټکي د مرکزي دموکراتیک طرحه تجسم کوي. په دیموکراسي کې، حکومت د ټاکل شوي چارواکو څخه جوړیږي څوک چې د هغه خلکو استازیتوب کوي کومو چې دوی ته رایه ورکړې ده. د دې انتخاب شوي استازو له لارې، او د رایه ورکولو پروسې او نورو مدني فعالیتونو له لارې، خلک د قوانینو جوړولو پروسه کې د ښکیلتیا لپاره ځواکمن کیږي کوم چې هیواد اداره کوي او د هغوی محافظت کوي. مدني ښکیلتیا یو مهم حق دی او د ټولو خلکو مسؤلیت دی.

### قوانین څنګه جوړیږي؟

د امریکا متحده آیالات فدرالي حکومت لري؛ د امریکا متحده آیالاتو کې ټول 50 آیالتونه آیالتي حکومت لري؛ او په هر آیالت کې هره ښاروالۍ ځایی حکومت لري. فدرالي قوانین د فدرالي حکومت مقننه قوې (کانګریس) لخوا وړاندیز کیږي او جوړیږي، د اجرایه قوې (ولسمشر او وزارتونه او ادارې) لخوا تصوییبیږي، او د قضایی قوې (د فدرال د محکمو سیسټم، پشمول د سترې محکمې) لخوا نافذیږي. دا حدود اساسي قانون ټاکي چې د قانون یوه برخه آیا د فدرالي حکومت یا هم د آیالتي یا ځایی حکومتونو لومړنی مسؤلیت دی.

د امریکا متحده آیالاتو قانون:
د قانون حاکمیت







د حکومتولۍ همدې ورته مقننه، اجرایه او قضایی څانګو سیسټم په کارولو سره، آیالتي حکومتونه د فدرالي حکومت لخوا جوړ شوي قوانینو د وضاحت او تنفیذ لپاره کار کوي او نور قوانین جوړوي کوم چې د هغوی آیالتونه اداره کوي. آیالتونه همدارنګه ځایی حکومتونه ټاکي او هغوی ته د قوانینو جوړولو واک ورکوي. لدې چې فدرالي، آیالتي او ځایی حکومتونه ټول قوانین جوړوي، نو قوانین په یو او بل آیالت کې سره توپیر کولی شي او حتی په یوه او بله ښاروالۍ کې هم سره مختلف کیدی شي. د مهاجرینو لپاره دا مهم دي چې وربانديې پوهه شي څکه چې هرڅوک اړ دی چیرې چې اوسیږي د آیالت او ځایی قوانین تعقیب کړي.

## قوانین په چا پلي کیږي؟

د امریکا متحده آیالاتو کې هیڅ څوک د هغوی ټولنیزې رتبې، مالي دریځ، یا کوم بل امتیاز په پام کې نیولو پرته د قانون نه دباندې ندي. ورته قوانین په ټولو پلي کیږي. د قانون نه خلاصون لپاره بډې ورکول غیرقانوني کار دی حتی د کومو ځانګړي امتیازاتو یا استثناآتو لپاره کوم چارواکي ته بډې او رشوت ورکولو هڅه کول هم د سزا وړ جرم دی.

قانون ته بې توجهي په عموم کې د قانون څخه معافیت تضمین ندی. هغه خلک چې په ناپوهي کې قانون مات کړي باید پایلو سره یې مخ شي، حتی که د قانون ماتولو نیت یې هم نه درلود.



## د مناسب پروسې حق

که چیرې کوم څوک قانون مات کړي، د مناسب پروسې حق لري. د مناسب پروسې حق د ټاکلي حقوقي طرزالعملونو د کارولو له لارې د عادلانه چلند حق دی که چیرې په جرم تورن شي. د امریکا متحده آیالاتو کې، د مناسب پروسې حق د امریکا متحده آیالاتو اساسي قانون پنځم تعدیل کې راوړل شوي، په شپږم او څوارلسم تعدیلاتو کې د عادلانه محکمې تضمین شوی دی.

## پنځم تعدیل

پنځم تعدیل د مناسب پروسې حق ورکوي که چیرې یو شخص په یوه جرم تورن شوی وي یا که چیرې د دغه شخص د ملکیت ګټې د حکومت لخوا اخیستل کیږي. دا د ورته جرم لپاره دوه ځله د یوه شخص تورن کول منع کوي. علاوه لدې، دا وایی چې یو شخص په جنایی قضیه کې د خپل ځان پرووړاندې شاهدي ورکولو ته نشي مجبور کیدی، او دا چې د یوه شخص شخصي ملکیت د مناسب تاوان د تادیه کولو پرته د عامه استعمال لپاره نشي اخیستل کیدی.

## شپږم تعدیل

شپږم تعدیل وایی چې په جرم تورن شخص د بې پرې منصفه هییت لخوا د چټک او عامه محکمې، او حقوقي وکیل ته د لاسرسي حق لري. یو شخص دا حق هم لري چې د هغه یا هغې پرووړاندې تورونو نه خبر کړی شي. علاوه لدې، دا هم وایی چې تورن شخص حق لري د هغه پرووړاندې شواهدو سره مقابله وکړي او په خپله دفاع کې شواهد وړاندې کړي.



## څوارلسم تعدیل

څوارلسم تعدیل آیالتونه د داسې قوانینو جوړولو یا نافذ کولو څخه منع کوي کوم چې د امریکا متحده آیالاتو اساسي قانون لخوا ورکړل شوي ډیری حقونو سرغړونه کوي. په هرصورت، څوارلسم تعدیل دا نه وایی چې آیالتونه څنګه د دغه حقونو ډاډ ورکړي، پشمول د مناسب پروسې حق. دا پدې معني ده چې د دې حقونو او د مناسب پروسې د محافظت قوانین په یوه او بل آیالت کې توپیر سره درلودلی شي.

**Cultural Orientation Resource Exchange**
8719 Colesville Road, 3rd Floor • Silver Spring, MD 20910
For more information, visit the CORE Resettlement Navigator website at **corenav.org**.

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**